# په سینګار توکو او د مذهب سره تړاو لرونکو پوډرو کې د سربو شتون



**سرب یو خورا زهرجن فلز دی.** دا په ځانګړې توګه د کوچنیو ماشومانو لپاره زیانمن دی ځکه چې هغوی لا هم وده او پرمختیا کوي. د سربو سره مخ کېدل ممکن ډېرې بېلابېلې روغتیایي ستونزې رامینځته کړي، لکه:

- دماغ او عصبي سیستم ته زیان
- د ودې او پرمختیا ورو کېدل
- د اورېدلو او خبرې کولو ستونزې
- د زده کولو او د چلند ستونزې

له بده مرغه، ډېر توکي ممکن سرب ولري. حتی هغه توکي چې تاسو ممکن تمه ونه لرئ. یوه ذریعه چې له لارې یې ماشومان د سربو سره مخ کېدای شي، د سینګار توکي او مذهبي پوډرونه دي، لکه:

- کهل
- سرمه
- کاجل
- سیندور
- کوم کوم












ځیني وختونه دغه محصولات د سربو څخه ککړ وي حتی که سرب یې په اجزاو کې لیست شوي نه وي. کله چې تاسو دغه محصولات د ماشومانو په سترګو، مخ او/یا پېنو ولګوئ نو هغوی د سربو سره مخ کېدی شي. دوی ممکن په تصادفي ډول هغه محصول په خوله کې واچوي کوم چې د دوی په لاسرسي کې وي. هغه امیندواره میرمنې کوم چې دا محصولات کاروي د حمل سقط کېدلو، د مړ زېږون، یا د وخت څخه ډېر مخکې د ماشوم د زېږون لوړ خطر لري.

**دا ګامونه تعقیب کړئ ترڅو خپل مهم دودونه په خوندي ډول ترسره کړئ:**

- یوازې هغه محصولات وکاروئ کوم چې مو په متحده ایالاتو (United States) کې پېرلي وي.
- هغه محصولاتو کارول سمدلاسه ودروئ کوم چې د متحده ایالاتو (United States) څخه بهر پېرود شوي وي. ټول لاسونه او د کور سطحې ومینځئ او پاتې محصولات وغورځوئ.
- د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي څخه وغواړئ چې ماشومان او امیندواره میرمنې د سربو سره مخ کېدو لپاره معاینه کړي که چیرې دوی د متحده ایالاتو (United States) څخه بهر پېرود شوي محصولات کارولي وي.

Virginia Childhood Lead Poisoning Prevention Program

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

نور معلومات دلته ترلاسه کړئ:
www.vdh.virginia.gov/leadsafe/